

# صدام حسين

Download from:aghalibrary.cm

ليکوال:سروراحمد:مخلص:

نيټه:۱۳۹۹/۱/۱۳

بسم الله الرحمن الرحيم

ډالۍ

ټولومسلمانانوورونوته په خاص توګه ټولو افغانانو ته دي ډالۍ وي.

سروراحمد:مخلص:

# صدام حسين

په ۱۳۱۶ه ل کال کي دعراق په تکريد ښارپه ښارګوټي کي وزيږيد پلارعبدالمجيد نوميده چي دده دزيږيدنی ۵مياشتي مخکي مړشوی وه.

صدام حسين موردخراب ژونداودسرپرست ده نشتون له امله دوهم واده وکړ.

صدام حسين ۳کاله دماماسره اوسيدی وروسته تر۳کاله دخپلي موركورته راستون اودمورپه کورکي دپلندرله لوري ورسره ناسم چلنده کيده.

صدام حسين ۱۰کلن وه چي دتکريدڅخه بغدادته ولاړاوهلته دخپل اکا په کورکي ميشت شو.صدام حسين خپلي لومړنی اومنځنی زده کړی هم هلته وکړی اوتر ځنګ يی دده په ويناداخپل اکاڅخه هم يوڅه زده کړه.

صدام حسين دخپل اکاپه غوښتنه چي دي داوخت۲۰کلن وه دبازدکوندغړيتوب تر لاسه کړهلته دديروسياسی مسايلوسره اشنا شوه اودهغه کوندپه سياسی مبارزاتوکي فعال اوبرخه وال شو۱۳۳۸ه ل کال جنرال عبدالکريم قاسيم چي هغه مهال دعراق لومړی وزيروه ووژل شوه.

ده هغه دوژنی توررسمئا په صدام حسين واوښت پدی سره صدام حسين مصرته مخه کړل اوهلته يی دحقوق پوهنځي پيل کړه دعراق حکومت دصدام حسين په نشتون کي هغه ته دمرګ سزا ورکړه.

خوديرژرپه عراق کي دبازدکوندغړوپه۱۳۴۲ه ل کال کي کودتاه وکړه اوقدرت يی پخپل لاس کي واخيست خوديولړخپل منځی اختلافاتوله امله يی حکومت تر۸

میاشتوزیات دوام ونکړ.په همدي وخت کي صدام حسین له مصرڅخه راستون شو اودخپل کونداختلافاتواوګډوډیودلیري کولولپاره یی هڅی پیل کړي.خوصدام دعبد الرحمن عریف حکومت ته چي دبازدکوندڅخه واک نیولي وه لاس ته ورغلي او بندی یی کړ.اوتر۳کاله بندڅخه وروسته دزندان څخه په تیښته بریالي شواوپدي سره دبازدکوندپه مهموکسانوکي وشمیرل شوپه ۱۳۴۶ه ل کال دبازدکوندله لوري یوه بلی کودتاه کولوسره چي جنرال احمدحسن ابوبکریی مشری کوله په مکمله تو ګه دچارواکی په لاس کي واخیستی .

اوصدام پکښي دعراقي ځواکونودعمومی قومندان په توګه راڅرګندشو.صدام حسین ته هغه مهال مخه خلاصه شول چي ولسمشراحمدحسن ابوبکرنورزوړشوی وه.اودخپلوکارونودترسره کولوتوان یی نه درلودي.

نوهغه وه چي صدام حسین په رسمي توګه ځان دعراق دولسمشرپه توګه اعلان کړاوپه عراق کي یوشمیرلانجي لکه شیئه اوسونی ترمنځ روان اختلافات اودنورو اقلیتونوترمنځ ستونزي حل کړي.

اوعراق یی دیوقوي مرکزی حکومت څښتن کړاوصدام داسرائیلوپه خلاف د فلسطین دوسلوالومقاومت ملاتړوکړخودایران سره یی مخالفت پیداشو.داهغه مهال وه چي په ایران کي اسلامی انقلاب دخمینی په مشري ترسره شو.اوله ټولوهیواد ونوسره یی په بهرني سیاست کي بدلون راغلی اودعراق سره یی هم دښمني شرو ع کړه پدي سره دخمینی اوصدام حسین ترمنځ اړیکي ډیری خرابي شوي.

اوسرحدي ستونزي يی راپيداکړي په پيل کي عراق ۱۳۵۹ه ل کال دايران په خو ستان ايالت بريدوکړاود دواړوهيوادونوترمنځ سختي جګړي پيل شوي چي ۸ کاله يی دوام وکړ.اود دواړولوروپه زرګونه خلک پکښي ووژل شول.

همدارازدعراق يوبله ستونزه دکويټ سره راپورته شول . عراق غوښتل چي دتيلو قيمتونه پورته کړي خوکويټ دامريکاپه مشوره چي تيل يی همدغه امريکاهيوادته ورکول دصدام خبره ونه منل اوهمداسي کويټي چاروادکودعراق سرحدته نږدي د تيلودڅاګانودکيندلوچاري پيل کړي.

صدام دکويټ داعمل په غوسه کړاو۱۳۶۹ه ل کال يی وربانډي بريدوکړ.

خوامريکاپکی خپلوګټوته زيان وليداودعراق په وړاندي يی دجنګ اقدام وکړبلا خره په هوائی اوځمکنی قواوسره يی عراقی فوځيان دی ته اړکړه.

چی کويټ پرېږدي دکويټ دجنګ وروسته دامريکااوعراق اړيکی داسی کړکيچنی پاته شوی اوامريکاد ملګری ملتونودامنيت شورادلاري په عراق سخت اقتصادي بنديزونه ولګول اودبنديزونوسربيره امريکااوانګليس۱۳۷۷ ه ل کال دعراق دسلاح جوړوني په مرکزونوپرته له کوم نړيوال جوازڅخه بريدونه وکړل اوزيات شمير عراقيان يی ووژل.۲۰۰۱م کال امريکادافغانستان دبريد وروسته عراق مهم هدف وګانه .دامريکاولسمشربوش پخپلوخبروکي ايران،عراق اوشمالي کوريا دشيطانی مثلث په نامه يادکړل.بوش په صدام تورولګوه چي کيمياوی وسلي جوړوی اوبايد دده واکمنی له منځه يوړل شي .بلاخره يی په عراق بريدپيل کړاودصدام حسين

حکومت یی راوپرځاوه اوپرځاي لاس پوسی شیئه حکومت واکمن کړ.

صدام حسین په عراق کي ورک شوچابه ویل سوریی ته تللی چابه به ویل اوردون ته تللی چابه ویل دهئلرپه شان یی ځان وژنه کړیده . خوداسی نه وه صدام په عرا ق کي وه اوپه وینایی ترمرګه یی دامریکایانوپرضدمقاومت ته ولاړوه په پایله کي صدام ۲۰۰۳م کال کی دامریکایانولخوادهغه په پلرني ښارتکریدکي په داسی حال کي ونیول شوچي دیوکورلاندي یی څومتره ځاي سوری کړي وه اوهلته یوازی اوسیدی.

صدام حسین دنیول کیدوپرمهال اوږده ږیره درلوده اوروغتیایی وضیعت یی ښه نه وه.هغه دنیولم کیدووروسته زندان ته یوړل شو.خوپه زندان کي بی پروا اوارام معلومیده هغه امریکایی سرتیری چي دده ساتنه یی کوله بیاوروسته خبری رسنیو ته دصدام حسین په هکله داسی وویل چی صدام ۵ وخته لمونځ اودقرانکریم تلاو ت به یی کول، صدم خپل کالي پخپله مینځل ،اوخپل داوسیدو ځاي یی هم پخپله پا کول ،هغه په هروخت کي خندل اوویل به یی داحالت دخدای ج یوامتحان دي چي پرده اوملکرویی راوستی دی اوداوخت هم تیریدونکي دي .

هغه مهال چي صدام حسین په لومړي ځل محکمي ته راوستل شو.



وویل چی دا نه محکمه ده اونه هم زه مجرم یم دامحکمه دبوش په فرمایش جوړه شویده زه به هیڅکله ددغي محکمي پریکړی ونه منم .په دي محکمی سره بوش غواړي دامریکا په ټاکنوکي ځان بیابریالي کړي.اوددي پیښومجریم زه نه یم بلکی پخپله بوش دي .

هغه وخت چی قاضي صدام ته دمرګ سزاواورول .صدام حسین چی قرانکریم یی په لاس کي وه



په محکمه کي راپورته شواودالله اکبرپه ويلوسره يی قاضی پريکړه وغندل.
صدام حسين ۲۰۰۶ م کال ډسمبرپه ۳۰ نيټه چي دمسلمانانودلوي اخترلمړی ورځ وه صدام ده همدي ورځي دسهارپردری نيموبجودعراق دپوځ لخوا چی امريکا يی ملکرتياکوله په داروځړول شو .
داچي ويلی دمسلمانانودلوي اخترپه لمړی ورځ صدام ادام کړل شوډيره لويه اومو هيمه پوښتنه ده په هرحال دصدام حسين دمرګ ځوورځي وروسته دالجزيری تلويزون داسی ويډيوګاني خپری کړی چي صدام يی ددارځای ته ځوتنوجلاتانوچي موخونه يی پټ کړی وه روان کړی وه صدام داوخت ډيرارام ښکاريدی او هيڅ راز مقاومت يی ونکړاوهغه مهال چی جلات يی په غاړه کي دغرغری پړی وروا چوي هغه ته يی په ځيروکتل اومسکايی ورته وکړل اوهمداراز يی هغه توره کځو ړه پړی نښوده چي جلات يی پرمخ ورواغوندی .صدام حسين کلمه طيبه لا پای ته نه رسولي چي جلات پړی راکش کړ.
دصدام حسين مړي په تکريدښارکي دهغه په پلرني هديره کي دسيمودخلکولخوا خاورو ته وسپارل شو.

:روح دي ښاد وي :

# ماخذونه

١:بیلابیلی انټرنیټي ویبپاڼي.

٢:بیلابیلی تاریخی ویډیوګانی.

# (هروخت دحق طرفداری کوي)

سروراحمد:مخلص: وينا: